جناب سپیکر سر، ہمارے تدبر، ہوش اور فکر کا وقت آ پہنچا ہے، یہ جو طاقت ہم پر مسلط ہو رہی ہے، یہ کوئی معمولی بات نہیں ہے۔ایک انتہائی مغرب سے آ کر جب مشرق پر حملہ کر رہی ہے تو وہ کوئی معمولی قسم کے مقاصد کیلئے نہیں آ رہی ہے اور دنیا کی جو بڑی طاقتیں ہیں، پہلے روس آیا، اب امریکہ آیا ہے تو ان کو ہماری زمین نہیں چاہئیے، ان کے پاس ڈالر بہت زیادہ ہیں، ان کیلئے ان کا اپنا ایک نظریہ دنیا اور دنیا پر چھا جانے کیلئے اپنے نظریئے کو، اپنے دین کو رائج کرنے کیلئے وہ آ رہے ہیں۔ یہ ہمارا تدبر ہے کہ کل 'مولن' ان کا جرنیل جاتے جاتے کہتا ہے کہ پاکستان کے ساتھ یہ حقانی گروپ ہے، پاکستان کے ساتھ ہے اور حقانی نیٹ ورک بنا ہوا ہے اور ہمارے کرزئی صاحب کہہ رہے ہیں کہ اب ہم طالبان کے ساتھ بات نہیں کریں گے، ہم پاکستان کے ساتھ بات کریں گے۔ مطلب یہ ہے کہ پاکستان اور طالبان کو ایک چیز بنایا ہے، ہم ان کے جواب میں یہ کہہ رہے ہیں کہ ہم کرزئی کے ساتھ بات نہیں کر رہے ہیں، ہم امریکہ کے ساتھ بات کر رہے ہیں۔یہاں پہ بہت بڑی طاقت آ گئی ہے اور وہ ہمارے لئے ہے، جو ہمارے مفتی صاحب نے کہا کہ اچھے لوگ اور مذہبی لوگ بھی اور غیر مذہبی لیڈران جو ہمارے تھے، ان کے پیچھے وہ لوگ پڑے ہوئے ہیں، یہ اس لئے نہیں پڑرہے ہیں بلکہ ہمارے جو اچھے Mature قسم کے جو Cream لوگ ہیں، ان کو ہٹا کر یہاں ہم پر اپنے نظریئے کو مسلط کرنا چاہتے ہیں، جس طرح ایسٹ انڈیا کمپنی نے آ کر انہوں نے ہم پر تسلط کیا تھا، ابھی بھی وہ اسی نظریئے پر آ گئے ہیں، یہ دونوں ایک ہی قسم کے تھے۔ ہمارے مسلمانوں نے جہاد کیلئے روس کے ساتھ جنگ لڑی ہے، اب بھی اگر ہم امریکہ کے ساتھ جہاد کی طرف نہیں گئے تو آپ یقین کریں کہ وہ اس ملک سے کبھی نہیں جائے گا اور وہ اپنے نظریئے کو مسلط کر کے جائے گا تو ہمیں چاہئیے کہ جس طرح ہم روس کے ساتھ لڑے ہیں اسی طرح مسلمان اگر امریکہ کے ساتھ نہیں لڑیں گے تو کبھی واپس نہیں جائے گا۔ شکریہ جی۔

<u>جناب سپیکر:</u> شکریہ۔اکرم خان درانی صاحب کوہاٹ میڈیکل کالج پر آپ کا کیا مسئلہ ہے؟ اس پہ بات کریں۔

<u>جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف):</u> چونکه دا خبره خو مفتی صاحب په دے موضوع اوکړه، زمونږ د کوهاټ میډیکل کالج سټوډنټس او والدین ما ته راغلی وو، د هغوی یو ډیره اهم غوندے مسئله ده، د هغوی دا تشویش دے چه د کوهاټ میډیکل کالج سټوډنټس تر اوسه پورے د Exam، دا معلومات ئے نشته چه آیا دوئ د کوهاټ یونیورسټئ نه Exam ورکوی او که د خیبر میډیکل یونیورسټی نه

Exam ورکوی؟ نو که حکومت چرته دا خبره واضحه کړی هغوی ته چه دا به کوهاټ یونیورسټی کوی نو بیا به هم کلیئر شی او که خیبر میډیکل یونیورسټی نه نو په هغے د هغوی اعتراض نشته خو اوسه پورے هغه سټوډنټس ته په دیکښے دا خبره کلیئر شوے نه ده۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی بشیر بلور صاحب۔

<u>جناب بشیر احمد بلور {سینیئر وزیر (بلدیات)}:</u> جناب سپیکر، درانی صاحب خبره اوکړه، دا به سیکرټری هیلتھ سره خبره اوکړو انشاء الله چه څه کیدے شی او به ئے کړو، مونږ ته خو پته نشته، دوئ خبره اوکړه نو هغوی سره به کښینو او دوئ نه به زه لیکل واخلم چه دوئ څه خبره اوکړه، هغه به انشاء الله هغه ته۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> دا د سیکرټری۔۔۔۔

<u>سینیئر وزیر (بلدیات):</u> د سیکرټری هیلتھ خبره کوی کنه۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> د سیکرټری هیلتھ خبره ده۔

<u>سینیئر وزیر (بلدیات):</u> او جی۔

<u>جناب سپیکر:</u> سیکرٹری ہیلتھ کا اگر کوئی نمائندہ ہو تو منسٹر صاحب کو جواب لکھ کر دیدے۔

<u>سینیئر وزیر (بلدیات):</u> بنه جی۔ ما ته په پوائنټ آف آرډر باندے چه زه هم یو خبره اوکړم، مفتی صاحب هم خبر اوکړه، زمونږه عتیق هم خبره اوکړه او زمونږ مولوی عبید الله صاحب هم خبر اوکړه۔ سپیکر صاحب، مونږ خو ټول عمر نه، زمونږ خو بنیاد چه دے نو هغه عدم تشدد دے او باچا خان خو ټول عمر د تشدد مخالفت کړے دے، هغه به دا خبره کوله چه تشدد نفرت پیدا کوی، عدم تشدد محبت پیدا کوی نو هغوی د انګریزانو خلاف هغه وخت چه کوم Stand اغستے وو نو هغه وخت هم دنیا دا وئیل چه انګریزان چه دی، دا به ځی نو شپږ سوه فټه سکه به په دے ملک کښے غورځوی نو هله به ځی، د هغے باوجود باچا خان پاڅیدو ټوپک ورسره نه وو، نه توپ وو نه تفنګ وو، هغوی صرف خپل په دے جدوجهد باندے هغه انګریز چه لوئے طاقت ئے وو، هغه دے ملک نه لاړو، د خدائے فضل دے نن پاکستان، نن بنګله دیش، نن هندوستان دا ټول آزاد دی۔ بل هغوی، افسوس دا کوم چه مفتی صاحب ډیرے بنه خبرے اوکړے، مونږ بالکل د هغوی د هرے خبرے

تائید کوؤ چه امریکه ځی، مونږ د امریکې د پاره نه جنګیږو، د امریکې جنګ په هغه وخت کښې وو چه کوم وخت پرویز مشرف U-turn په یو ټیلیفون باندې اغستې وو، نن دا کریډټ دې جمهوری حکومت ته ځی چه د امریکې پریزیډنټ، د امریکې ټول لاندې نه بره پورې جرنیلان، هغوی خبره اوکړه او خپل حکومت اودریدو او زه د ټولو سیاسی پارټو د مشرانو هم شکر ګزار یم چه هغوی سپورټ کړو او نن د خدائې فضل سره امریکه چه ده نو هغه د خپلو خبرو نه واپس ده۔ سپیکر صاحب، د خبرو اترو مسئله کښې مونږ په دې فخر کوؤ چه زمونږ د خپلې صوبې دوه ایم پی ایز دلته شهیدان شوی دی۔ دلته د سوات زمونږ ملګری ناست دی، داسې یو کس به نه وی چه د هغوی د کور نه یو یا دوه، درې کسان شهیدان شوی به نه وی۔ د میاں صاحب یو ځوئې وو او د ده نور بچی هم نشته، نور د ورونړو ئې هم بچی نشته، صرف یو ځوئې ئې وو هغه هم شهید شو۔ زمونږ تقریباً چار سو، سا ړهے چار سو کسان، ورکران شهیدان شوی دی۔ زمونږ په جلسو کښې بمونه خلاص شوی دی او مونږ د هغې باوجود کوشش اوکړو، زمونږ حکومت چه راغلو نو پهلا زه لاړم او دا زمونږ Minister Environment چکدرې ته لاړو، واجد علی خان، هلته دا مسلم خان، دا محمود خان چه د دوئ ټول Top most خلق وو بغیر د فضل الله نه، دا ټول مونږ رااوغوښتل چه څه غواړئ؟ وائی دا نظام عدل غواړی، ورکوؤ ئې جی، شریعت غواړی نو ورکوؤ ئې جی او مهربانی اوکړئ کښینئ او دا خبره ختمه کړئ، د جنګ بند بندی اوکړئ، نو هغوی ما سره لوظ اوکړو، پیښور ته راغلل، میاں صاحب، زه، افراسیاب خټک، رحیم داد خان، مونږه ټول کښیناستو هغوی سره په خبرو اترو باندې، مونږه دا مسئله مو اوکړه او ایګریمنټ هم سائن شو۔ د هغې باوجود هغوی خپل حرکت نه باز نه راتلل، دا خو مونږ اوس د امریکې جنګ منو کنه، د امریکې جنګ وو، کوم ویو ټائم چه پرویز مشرف اغستې وو، هغه څنګه اغستې وو، ورسره څوک ولاړ وو، چا سپورټ کړې وو، چا هغې ته ووټ ورکړې وو او څنګه هغه صدر جوړ شوې وو، 17th Amendment چا سپورټ کړې وو؟ هغې ته نه ځو، مونږ ووټ نه غواړو چه حالات دا دی، مونږ دا غواړو چه خپلې ورورولئ هم زیاتې کړو چه مونږ یو موټی شو او د دې حالاتو مقابله اوکړو۔ هغه

وخت هم مونږه ورسره اخر وخت پورے لاړو خو بدقسمتی دا وه چه یو دوه کسان، تقریباً دوه کسان مو نیولے دی، هغوئ وائی چه مونږه 32 کسان حلال کړی دی نو آیا چرته انسان څوک حلالوی؟ بیا 'خونی چوک' تاسو ته یاد دے، دا سوات کښے څه حالات وو؟ مونږ خو جنګ چا سره نه دے کړے خو مونږ باندے جنګ مسلط شوے دے۔ دا جنګ د امریکے جنګ وو خو کوم وخت کښے چه سوات کښے مونږ باندے دا تباهی راغله او زمونږ دا خلق شهیدان کړے شول، تاسو او ستاسو خدائے چه دا دومره هلته هغه د طالبانو، د دهشت ګردو چه کوم کیمپونه وو، دهشت ګردو چه کوم ټریننګ کیمپونه وو، هغه څه یو ورځ کښے جوړ شوی وو؟ او کوم وخت نه هغوی پرے هلته کار کولو خو چا غږ نه شو کولے۔ مونږ ورته اودریدو، مونږ ورته اووئیل چه دا ملک زمونږ دے، مونږ ورسره خبرے اترے اوکړے، دوئ نه منل، بیا صوفی محمد صاحب سره مونږ خبرے اوکړے، هغه مونږ راوستلو، دلته چیف منسټر هاؤس کښے او هغه مونږ باعزته طور باندے دیر ته بوتلو، سوات ته مو بوتلو۔ سوات ته چه لاړو نو هغوی په دریمه ورځ جلوس اویستلو، زه ووم، ما سره د آئی ټی منسټر وو، واجد علی خان وو، مونږ راغلو سوات ته چه سوات ته لاړو، هلته مونږ کښیناستو نو ما تپوس اوکړو، د صوفی محمد ځامن راغلی وو، ما وئیل چه صوفی صاحب څه شو؟ هغوی وئیل چه هغه نه دے راغلے، هغوی وئیل چه بیمار دے نو ما وئیل چه زه هغه ته لیدو د پاره ځم، مونږ خو امن غوښتو، هغوی جلوس ویستے وو، سپینو جهنډو سره چه مونږ هلته لاړو، ما ته بریګیډیئر وئیل چه مه ځه، تا به کښینوی او بیا به را باندے Bargaining کوی نو لوئے نه لوئے خلق به را نه خلاص کړی او د هغوی دا هم یو شرط وو چه نه به فوج تا سره وی نه به تا سره څه پولیس والا وی، ته به یواځے، دا درے وزیران به یواځے درسره ځی۔ مونږ ورسره کښیناستو، د صوفی محمد یو زوئے زما یو طرف ته کښیناستو، یو بل طرف ته کښیناستو، مونږ صوفی محمد صاحب ته لاړو، د هغوی چه کومه مدرسه وه، په زرګونو کسان په هغے کښے موجود وو۔ مونږ ورسره کښیناستو، ما ته ئے وئیل چه بالکل ما لوظ کړے دے، زه به هغه شان خبره کوم۔ تاسو بیا اولیدل چه هغه ګراسی ګراؤنډ کښے څه وئیل؟ وئیل ئے 'نه پاکستان منم نه د پاکستان حکومت منم، نه د دے

آئین منم، نه سپریم کورټ منم' ،دے حالاتو کښے بیا به مونږه څه کول، بلکه مونږ ته کومه داسے لاره وی چه مونږ اوو وایو چه راځئ هر څه تاسو ته مونږ پریږدو، فضل الرحمان مولانا صاحب زما محترم دے او زما مشر دے، هغوی خو دے پورے وئیلی وو چه مارګله پورے دهشت ګرد اورسیدل، زمونږ مشرانو خو نن نه دیرش کاله مخکښے وئیلی وو چه دا ضیاء الحق چه کوم جهاد وائی، دا جهاد نه دے، دا د روس او د امریکے جنګ دے۔ تاسو اولیدل چه هغه Balance of powers ختم شو نو نن هغه امریکه چه ده، که چرے روس موجود وو نو د امریکے پلار هم افغانستان ته نه شو راتلے، چه روس موجود وو نو د امریکے پلار هم دے عراق ته نه شو راتلے، نن به فلسطین هغه حالت کښے نه وو چه روس موجود وے، Balance of powers به وو۔ خلقو وئیل چه جهاد دے، زمونږ مشرانو هغه وخت وئیل چه جهاد نه دے، نن هیلری کلنټن وائی چه' او مونږ نه هغه وخت غلطی شوے وه چه مونږ افغانستان هم داسے پریښودو' ۔ نن ډیر لوئے لوئے خلق وائی خو خدائی شاید دے، زما مخامخ ئے وئیلی دی چه هغه وخت مونږ غلطی کړے وه، که هغه وخت کښے مونږ دا جهاد نه وو وئیلے نو دا کار به داسے نه وو، نو دا ضیاء الحق کړلے دے او مونږه هغه ریبو۔ مونږ هم امن غواړو، مونږ هم نه غواړو چه زمونږ بچی د شهیدان شی۔ سپیکر صاحب، زما بچی، زما ماشومان چه بلاسټ اوشو پیپلز منډئ کښے، 120 کسان شهیدان شو، زما خویندے میندے بربنډے پرتے وے، مونږ وربانده بورئ واچولے، دے حالاتو کښے مونږ وئیل چه دا زمونږ جنګ نه دے نو زما بچی ولے وژنی، زما پولیس ولے وژنی، زما فوج ولے وژنی؟ مونږ خو اودریدو امریکے ته اودریدو، امریکے ته وایو چه تا نه منو، مونږه دا بهړکونه نه وهو د پنجاب د فلمونو په شان چه مونږ به دا اوکړو، مونږ به جنګ کوؤ، مونږ جنګ نه شو کولے، دا ملک دے جنګونو تباه کړو، مونږ یو وخت کښے دا وئیل چه "*لال قلعے پہ سبز جھنڈا لگائیں گے*"، سپیکر صاحب! هغه حالاتو کښے په سن 65ء کښے مونږ جنګ اوکړو، سن 71ء کښے مونږ جنګ اوکړو، نیم نه زیات پاکستان مونږ تباه کړو، هغه لاړو مونږ نه۔ بیا ضیاء الحق دا جنګ دیرش کاله مخکښے شروع کړے وو، د هغه جنګ حالات هم تاسو اولیدل او بیا پرویز مشرف خو اوس دا جنګ اوکړو، دا کار ګل

ته چه لاړو نو بیا ئے منتونه کول چه زما دا فوج هر څنګه چه وی واپس ئے کړئ نو مونږ جنګ نه غواړو، سیاسی خلق کله هم، دا همیشه د مارشل لاء ایډمنسټریټران چه دی، هغوی جنګ کړے دے او مونږ دا غواړو چه مونږ په امن سره پاتے شو۔ مونږ غواړو چه مونږ خبرو اترو سره مسئله حل کړو، مونږ امریکے سره جنګ نه کوؤ او نه کولے شو خو مونږ دا وایو چه زمونږ دے سرحداتو ته، زمونږ دے لائن، دا زمونږ دے پاکستان کښے یو طرف نه هم که چرته دوئ داسے حرکت اوکړی، که هغه څه حمله وی نو انشاءالله زمونږ دا فورسز، زمونږ عوام او زمونږه سیاسی لیډران له خیره ټول په یو ځائے باندے به مخالفت کوؤ، کله به هم هغوی نه پریږدو، د پاکستان په سرحداتو باندے که هغوی حمله اوکړی خو هغه شان مونږInitiative به نه اخلو چه هغوی ئے مونږ سره کوی نو مونږ ورته جواب جواب د پاره انشاء الله تیار یو، سپیکر صاحب، مذاکرات چا سره اوکړو چه زما بچی وژنی، زما په سر، زما په سینه باندے ټوپک ایږدی۔ مذاکرت به هله کوم چه زمونږ د حکومت Writاومنی۔ یو کس وائی چه زه حکومت نه منم، زه د پاکستان آئین نه منم، زه د پاکستان قانون نه منم نو هغه سره به زه څه مذاکرات اوکړم؟ د هغوی Mindset جوړ دے، تاسو لیدلی وو، دا زمونږه یو مشر وو نوم ئے نه اخلم، بیت الله محسود نه پس، هغه Takeover کولونو هغه وئیل چه دا امریکه لاړه هم شی نو زما جنګ به نه بندیږی، زه به کوم خپل اسلام چه غواړم، هغه به دے ملک کښے راولم۔ نو سپیکر صاحب، دا ډیرے ژورے خبرے دی خو زه دا وایم چه مونږه په دے فلور آف دی هاؤس دا خبره کړے وه چه زمونږه حکومت خبرے اترے هر چا سره کول غواړی، مونږه امن غواړو خو خبرے اترے به هله کوؤ چه زمونږ حکومت او زمونږ د پاکستان قانون، د پاکستان آئین او د پاکستان د حکومتWrit اومنی نو بیا به خبرے کوؤ، داسے په خبرو اترو، او وزیراعظم صاحب داسے نه دی وئیلی چه ستاسو کوم سړے بچی وژنی هغه سره به مذاکرات کوئ، مونږ هغوی سره قطعاً مذاکرات نه کوؤ۔ مخکښے به مونږ سره زمونږ د حکومت Writمنی، مونږ سره به بیا هغه کښینوئ نو هله به خبرے کوؤ خو که داسے د چا خیال وی چه زمونږ هغه خپل بچی وژلی شوی دی، هغه زمونږ خپل ایم پی ایز وژلی شوی دی، زما ورکران وژلی شوی

دی، زما بچی وژلی شوی دی، زما میندے، زما خویندے به هم داسے لاهو کړی، داسے هم نه شی کیدے، خپله خبره به پرے منو نو چه خبره منی هله به مذاکرات کوؤ، داسے مذاکرات نه کوؤ او نه مو کړی دی، نه به داسے کوؤ۔ مونږه هم امن غواړو، مونږ خو عدم تشدد والا یو خو چه چرته مجبوری شی نو خامخا ایکشن به اخلو چه هغه هر څوک وی، که خفه کیږی څوک او که خوشحالیږی۔ حکومت به هله خبره کوی چه زمونږ Writ به منی هله به خبرے کوؤ، داسے خبرے مونږه نه کوؤ څنګه چه د دوئ دا خیال دے چه بس مونږه هر څه پریښنودل او کښینو او خبرے کوؤ (*مداخلت*) نه، بالکل نه، بالکل نه او بالکل نه، ان شاء الله خپله خبره به کوؤ، هله به کوؤ چه زمونږ دا خبرے اومنلے شی۔

<u>جناب سپیکر</u>: شکریه جی۔ د انور خان څه خبره ده، انورخان! ستا څه مسئله ده؟

<u>جناب محمد انور خان ایڈوکیٹ</u>: جناب سپیکر صاحب، دوه Neighbor Districts دی او په چترال کښے ډیر خلق چه کوم دی، د دیر او سوات دی۔ پرون په اخبار کښے راغلی دی چه د پی آئی اے کوم شیډول وو، د دے نه مخکښے د پیښنور نه به درے فلائټونه چترال ته تلل، اوس د پی آئی اے دا شیډول دے چه اولنئ فلائټ د اسلام آباد نه ځی چترال ته، د چترال نه پشاور ته راشی، د پشاور نه بیا چترال ته لاړ شی او بیا اسلام آباد ته راځی۔ هغوی په اخبار کښے ورکړی دی چه مونږ د چترال فلائټ، یو فلائټ بندؤو۔ د دے مطلب دا دے چه هغوی به اسلام آباد نه ځی، په دے حالاتو کښے چه په لواری ټنل باندے کار بند شوے دے، هلته Already په سیکورټی فورسز باندے د افغانستان د طرف نه حملے شوی دی، هلته خلق په دے دغه کښے دی او بیا داسے په دے موقع کښے پی آئی اے که دا اعلان کوی چه مونږ به چترال ته فلائټونه بندؤو نو په دے فلور باندے ستاسو توجه راګرځول غواړم چه پی آئی اے نه د چترال خلقو ته ډیر زیات تکلیف دے، وړوکے غوندے فلائټ چلیږی جی او هغوی په دے وخت کښے که دا اعلان کوی چه یره مونږ به چترال ته فلائټونه بندؤو چه Already هلته یو Tension شته، یو دغه شته، د دے خبرے نوټس د واغستے شی او چرته د هم داسے او نه کړے شی چه د چترال یو شیډول دے او هغه هغوی کینسل کړی۔

جناب سپیکر: شکریہ۔ میاں صاحب! یو خو دا د بجلئ او دا دغه څه شے دے، تاسو رالیږلے دے، دا قرارداد به څوک پیش کوی؟ او تاسو به اول خبره اوکړئ جی۔

وزیر اطلاعات: ښه جی۔

جناب سپیکر: نو اول خبره کوئ که اول قرارداد پیش کوئ؟

وزیر اطلاعات: یره جی چه خبره اوکړم ځکه د قرارداد نه پس به ئے۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: ښه جی، اول دے انور خان له ږ جواب ورکړه جی؟

## (iii) بجلی کی لوڈ شیڈنگ

وزیر اطلاعات: انور خان له هم جواب ورکوم جی، د چترال د فلائټ په حواله باندے وزیراعلیٰ صاحب مرکزی حکومت سره خبره کړے ده او هم دغه رنګ چه دوئ د کوم خدشاتو اظهار اوکړو، هغوی ورته هم دغه خبره کړے ده چه په دے ورځو شپو کښے د پیښور نه نور هم ضرورت دے، پکار نه ده چه تاسو ئے بند کړئ، هغوی به ان شاء الله نوټس واخلی او که بیا ئے وانغستو نو Further چه څه کول وی نو هغه به بیا پکښے مونږ خپله کارروائی کوؤ۔ جناب سپیکر صاحب، تاسو چونکه ماحول ډیر عجیبه شو او زه پکښے لږ بهر ته اووتم، د ډیر دغه نه پس، د بجلئ دا مسئله هم ډیره دغه ایشو ده خو د هغے نه ډیر اهم ایشو ذکر شوه۔ زه به هم تر بجلئ پورے ځان محدود اوساتم او په زړه به کانړے کیږدم۔ د دے چه تاسو کوم اجلاس نن راغوښتے وو او کوم زمونږ د پیسکو چیف مو راغوښتے وو نو هغه بله ورځ په اسمبلئ کښے دا خبره رااوچته شوه او ډیر په شدت سره او زه خاصکر د اپوزیشن د ملګرو ډیر زیات مشکور یم چه د هغے نشاندهی دوئ پخپله اوکړه او مونږ په هغے کښے بیا د دوئ سره د یو ورورولئ په انداز کښے خبره رااوچته کړه او دوئ ته مو دا خبره اوکړه چه دا خبره به چیف منسټر صاحب هم په خپل سمی کوی، نو هغه پرون تاسو به کتلی وی چه چیف منسټرصاحب هم د پیسکو چیف رااوغوښتو او د هغوی سره ئے خپله خبره اوکړه او تاسو هم، د دے مطابق نن هغه اجلاس اوشو۔ په هغه اجلاس کښے چه کومے خبرے اوشوے، د هغے یو څو ملګرو سره چه کوم د هغه خدشاتو اظهار اوشو چه کوم په دے فلور باندے شوے وو، لهذا وخت هم ډیر اخری دے او تاسو ملګرو سره به ډیر وخت هم

نه وی،زه د دے موقعے په مناسبت سره چه زمونږه د صوبے څه تحفظات وو، مونږه هغوی ته په دے نیت باندے کیښودل چه مونږه د فیډرل گورنمنټ سره خپله مقدمه کوؤ، خپل کیس کوؤ نو تاسو زمونږه وکیلان یئ او مونږه ته اوښایئ چه کومے کومے داسے خبرے دی چه هغه په مرکز کښے کول غواړی او زمونږه یقین دے چه مرکزی حکومت زمونږه خپل حکومت دے او هغوی به مونږه سره په دے حل کولو کښے لازم کوشش کوی خو خبره په Arguments پکار وی، په دلائلو باندے پکار وی او د هغے دلائلو د پاره لازمی خبره ده چه واپډے سره هغه مواد شته چه هغوی مونږه له دلائل راکړی ځکه چه کله مونږه خبرے کوؤ نو ډیر په جذباتو کښے خبرے کوؤ او د ټیکنیکل انداز یو رنگ وی او جذباتی خبرے بل رنگ وی۔ کله چه سړے ربښتیا ټیکنیکل خبرے واوری نومجبورئ ډیرے زیاتے دی چه یو خوا مونږ تر دے وخته پورے چه دا یوه خبره په دے میټنگ کښے چه هغوی اوکړه او ټیکنیکل خبره وه چه زمونږه دا اوبه او د بجلئ داسے وخت هم راځی چه هغه بالکل زیرو ته راکوز شی۔دا یو داسے خبره ده چه تر دے وخته پورے مونږه د دے خبرے دا سوچ نه وو کړے چه گنی د اوبو او د بجلئ داسے وخت هم راځی چه هغه بیخی زیرو ته راکوزیږی؟ بیا د هغوی دا خبره، هغوی خپله یو مدعا بیانوله، ضروری نه ده چه مونږه ورسره متفق یو ځکه چه دا خبره لا روانه ده او په دے باندے به مونږه خپلے خبرے کوؤ، بیا دا خبره چه د Distribution په حواله باندے د هغوی کنټرول چه کوم دے، هغه زمونږه د دے پیسکو سره هډو شته دے نه، بلکه د هغے کنټرول ټول نیغ په نیغه د مرکز او بیا د اسلام آباد سره دے او چه کله دے ځائے کښے د لوډشیډنگ خبره مونږه کوؤ نو لوډشیډنگ چه کوم دے نو د هغے د پاره مونږه تیارے اوکړو او بیا د خپل شیډول نه خلاف لوډشیډنگ کیږی نو هغه زمونږه پیسکو نه کوی، بلکه زمونږه صوبه ئے هم نه کوی، هغه اسلام آباد کوی او اسلام آباد چه کوی نو هغه ئے په دے بنیاد باندے کوی چه هغوی یو لفظ استعمال کړو، Frequency خو به مونږه په بل رنگ کتله خو هغوی د Frequency لفظ استعمال کړو چه داسے یو لیول ته بجلی راشی چه بیا زمونږ گرډ سټیشن چلیدے نه شی نو که چرته گرډ سټیشن فیل شو نو هغه څلیریشت گهنټے بیا نورے غواړی او بیا به په ټول ملک کښے

Blackout وی او ځلیریشت ګهنټے به بیا دGenerate کولو د پاره مونږه ته پکار وی چه هغه به یو نوے خطرناک صورتحال وی، لهذا د دے په بنیاد باندے هغوی خامخا دغلته بیا د شیډول خلاف لوډ شیډنګ کوی۔ زمونږه د طرف نه چه مونږه کومے خبرے اوکړے نو مونږ خپل ځان د پوهه کولو د پاره مو ورسره دا خبره اوکړه چه یو دے ځائے کښے غټه خبره چه د دے ټولو ملګرو په علم کښے وی چه د کمپنو په بنیاد باندے ډیر غټ پرابلم دے او کمپنو سره چه زمونږ د حکومت کومے معاهدے شوی دی، د هغے معاهدو په روح باندے چه هغه په کوم ریټ باندے د هغوی سره خبره شوے ده، د هغه ریټ په بنیاد هغه چلیدے نه شوه او چلیدل ډیر ګران دی او بیا دا هغوی چه کله اوچلوی او بجلی پیدا کړی نو هغه بجلی چه بیا په مونږ خرڅوی نو هغه دومره ګرانه وی چه هغه مونږه اغستے نه شو او د هغے پیسے ورکول، کمپنی وائی چه ماته پیسے راکړئ زه به بجلی جوړوم، لهذا دا هم یوه خبره ده چه بجلی کمه نه ده، بجلی جوړوی نه نو ځکه کمه ده۔ دا هم یو ډیره غټه خبره ده چه که چرته مونږه د دنیا نه ډیرو خبرو کښے امداد اخلو او زما ملک د یو دومره غټ کرائسس سره مخامخ دے نو پکار دا دی چه مونږه په ملکی سطح باندے چه مونږه د دهشت ګردئ خبره کوؤ، د بحران خبره کوؤ نو په قوم باندے چه نن د بجلئ د طرف نه څومره عذاب دے نو دومره د بل طرف نه غټ عذاب نشته دے نو که چرته مونږه دا عذاب د لرے کولو د پاره په بین الاقوامی سطح باندے دا خبره اوچته کړو او په انسانی بنیادونو دا خبره اوچته کړو چه زمونږه د بجلئ د کرائسس حل چه کوم دے نو هغه په پیسو کښے دے، بجلی کمه نه ده، پیسے راسره نشته نو د پیسو د کمی په وجه باندے اوس مرکزی حکومت لږے پیسے ورکړی دی او امکان شته دے چه دوه، درے، څلورو ورځو کښے د مخکښے په نسبت صورتحال چه کوم دے نو بهتر شی خو دا به هم یو عارضی وی، لکه په سلینډر چه سړےآکسیجن ورکوی او یو مریض ژوندے ساتی، دا به Permanent نه وی، نو لهذا د دے د پاره چه مونږه خپل دلائل پیش کړل، هغوی خپل پیش کړل او مونږ ورته دا خبره اوکړه چه تاسو به که خدائے کړے خیر وی نو بلے جمعے له، سپیکرصاحب ورته وخت ورکړو، یوولس بجے چه تاسو به تیار راځئ، تاسو به مونږ ته چه کوم هغه بنیادونه ایږدئ چه په کوم

بنیادونو باندے مونږ ته واپډا کښے مشکلات وی او چه دا مشکلات مونږه لرے کړو۔ یو څو خبرے چه هغه د پبلک د پاره دی او هغه په دے بنیادونو دی چه زمونږه دیکښے شک نشته دے چه د بجلئ جوړولو د ټولو نه ارزانه ذریعه چه کومه ده، هغه زمونږ سره ده خو د ورسک ډیم چه کوم فریاد اوشو چه هغه د شگے نه ډک دے او شگه ترے وتلے نشی او په Running water باندے چه کوم دے نو نن د هغے جنریشن چلیږی، هغه دومره لیول ته راغلے دے ، لکه ورسک په مثال داسے دے لکه چه شته نه۔ یو خبره پکښے د راز اوشوه که چرته داسے یو ذریعه وی چه د شگے د وتلو یو ذریعه وی، د هغے د پاره هم هغه خبره پوائنټ آؤټ شوه چه کیدے شی چه هغه امکانات وی او مونږ د هغے نه شگے اوباسو۔ پاتے شوه زمونږه د تربیلے د ډیم خبره نو د تربیلے د ډیم هم زما په خپل خیال باندے یو ټیکنیکل خبره ده چه چرته دا د Irrigation purpose د پاره جوړ شوے دے ، تر اوسه زمونږ دا خیال وو چه دا د پاور په خیال باندے جوړ شوے دے او د بجلئ په خیال جوړ شوے دے او مونږ به د بجلئ فریاد ډیر کولو، دا بنیادی طور ایریگیشن د پاره جوړ دے او چه کله فصل ته د اوبو ضرورت وی نو زمونږ دا ډیمونه چلیږی نو که زما دا ډیم د اوبو ډک هم وی او لاندے فصلونو ته د اوبو ضرورت نه وی او هغه فصلونه ترے خرابیږی نو زه به دا ډیم اودروم نو د بجلئ اوبه شته دے او بجلی جوړیدے شی خو زه ئے جوړولے نه شم ځکه چه هغه د Irrigation purpose د پاره دے ، د دے مسئلے حل به هم اوښکل غواړی ځکه که چرته اوبه ضائع کوؤ نو بیا به ترے څه جوړیږی؟ او که فرض کړه بجلی نه جوړؤو نو بیا به ترے څه جوړیږی؟ بیا په دے بل سائډ باندے هم مونږ غور اوکړو چه که فرض کړه د اوبو دا پرابلم دے نو چه په کوم ځائے کښے مونږ په داسے موسم کښے چه بیا بیخی مونږ نهرونه صفا کوؤ او زمونږ د بجلئ د جوړیدو Capacity zero ته راشی نو مونږ وایو چه زمونږ سوئی گیس مونږ له خدائے پاک راکړے دے او د سوئی گیس په ذریعه باندے چه مونږ د دغے ورځو د پاره د بجلئ د جوړیدو کار اوکړو چه مونږ د پاکستان چه کوم پرابلم دے ، دا هم Face کړو خو چه Overall زمونږ صوبے ته چه کومه مسئله ده، دا مسئله هم مونږ حل کړو او دا زما دے ملگرو سره هم مونږ دا شیئر کوؤ چه یقیناً مونږ بجلی زیاته پیدا

کوؤ او زمونږ ضرورت کم دے خو چه کله زمونږ ضرورت کم هم وی، داسے وخت هم پکښے راځی چه مونږ سره بیا یو یونټ هم نه وی نو لهذا دا ټولے خبرے د ملک په مفادو کښے مدنظر هم ساتل غواړی او حقیقی سټینډ اغستل غواړی او حقیقی سټینډ دا دے چه نن مونږ سره د بجلئ د مشین چلولو د پاره چه په تیلو ئے جوړوؤ، د Furnace oil د پاره پیسے نشته او کمپنئ وائی مونږه ئے جوړؤو نه نو First priority زمونږ دا ده چه زما د اوبو د بجلئ خو خپل سسټم دے خو د تیلو د بجلئ دا سسټم دے چه دا هر وخت جوړیدے شی خو چه ما سره تیل وی او کمپنو سره زما دا معاهده وی چه ارزانه وی او قوم ته رسیدے شی نو په دے وخت کښے د ټولو نه بنیادی خبره دا ده چه مونږ هغه کمپنو، ما خو دا هم اووئیل که د دے پبلک د پاره که دا معاهدے مونږ ماتولے شو، دا معاهدے څه آسمانی نه دی او نه قرآنی صحیفه ده، دا د دے قوم د پاره مونږ کړی دی او که داسے معاهده وی چه هغه معاهده د دے قوم د پاره تاوان کوی نو دا د هغے مونږه هرجانه ورکولے شو، مونږ چه کوم دے د هغے چه مونږه نه کوم کمے شوے وی نو هغه کمے ورسره برداشت کولے شو خو د قوم په خاطر پکار دا ده چه دا کرائسس ختم شی چه زما کارخانے ولاړے دی، زما قوم تباه شو۔ نن چه زه د دهشت گردئ خبره کوم، که نن زه په دے وطن کښے خوشحاله یم، نن که زما مشکل اسان وی، نن که د روزگار مسئلے وی، نن چه زمونږ هسپتالونه چلیدے، نن چه زمونږه سکولونه چلیدے، شاید چه مونږ دا نن کوم د دهشت گردئ مقابله کوؤ، مونږ به نور هم په قوت کښے دے ته ولاړ وو خو په مونږه باندے داسے غیر انسانی کرائسز راغلی دی چه د هغے کنټرول ډیر گران دے نو که دا معاهدے ماتول وی نو مونږه مرکز ته اپیل کوؤ چه دا معاهدے د دے قوم د پاره دی او دا د دے وطن د پاره دی، که داسے معاهدے شوی وی چه هغه د دے قوم د پاره تاوانی وی، بالکل مونږه هرجانے ورکولو ته تیار یو خو د ټول عمر تاوان ته تیار نه یو چه هغه د دغه رنگ مونږه ته په تاوان کښے وی او که کومے معاهدے خپل معیاد ته رسیدلے دی نو نورے معاهدے د په هغه شرائطو باندے نه کیږی، کوم شرائط چه د قوم په گټه کښے نه وی نو هغه شرائطو باندے نورے معاهدے د نه کیږی۔ دغه یو څو خبرے وے او د واپډے چیف به که خدائے کړے خیر وی، د

جمعے پہ ورځ راځی، زمونږ ټول د اپوزیشن مشران، کوم چہ زمونږ پارلیمانی لیډران دی او زمونږ چہ کوم نور ملگری، بلکہ زہ خو ټول هاؤس ستاسو طرف نہ Inviteکوم چہ ټول هاؤس د حاضر وی ځکہ ډیر ډیر خلق داسے وی چہ هغوی وائی چہ زما ذهن کښے ډیر ښہ تجویز وو خو کاش زہ ئے غوښتے نہ یم نو زہ بہ سپیکر صاحب تہ خواست کوم چہ ټول هاؤس د څلور بجے د جمعے پہ ورځ دلتہ حاضر وی او د پیسکو چیف بہ خبرہ کوی او بیا د هغے نہ پس هغہ وائی چہ یو څو خبرے داسے دی چہ زہ مشرانو سرہ ځان لہ کوم نو یو څو خبرے بہ ځان لہ د دے پہ بنیاد کوی چہ هغہ وائی چہ پریس تہ یا خلقو تہ د هغہ خبرے هغہ وخت کښے لاړے شی چہ کوم وخت کښے د مسئلے د حل کیدو گنجائش وی۔ دا خبرہ بیا د ټولو نہ غټہ زمونږ د ټرانسفارمروہ او د ټرانسفارمر پہ بنیاد زمونږ د ټرانسفارمرو د ټولو چہ کوم دے مشترکہ یو مسئلہ وہ، د ټولے صوبے او هغہ مسئلہ پہ دے بنیاد وہ چہ زمونږ ټرانسفارمرے سوزی او د سوزیدو پہ بنیاد بیا د هغے مرمت نہ وی او پبلک پہ وخت باندے خپل ټرانسفارمر او بجلی غواړی۔ درانی صاحب خصوصاً پہ هغے باندے د خپل جنوبی اضلاع د طرف نہ هم خبرہ اوکړہ او دا ئے اووئیل چہ پہ هغے کښے پکار دا دہ چہ د مرمت د پارہ سرکاری انتظام نہ وی چہ هغہ پہ نجی طریقہ باندے اجازت ورکړی او خلق دغلتہ مرمت سټارټ کړی۔ د پیسکو چیف اووئیل چہ او مونږ تیاری کړے دہ او مونږ کوشش کوؤ چہ کوم کوم ځائے کښے هم پہ نجی ذریعہ باندے مونږ ټرانسفارمرے جوړولے شو نو هغہ بہ جوړوؤ۔ اوس هغہ دا اووئیل چہ دوہ زرہ تقریباً ما پہ خپل سمی باندے د نورو ټرانسفارمرو بندوبست کړے دے چہ هغہ راشی، د هغے سرہ بہ مسئلہ لږہ حل شی او دا ډیر کرائسس پہ دے باندے وو چہ سیلاب راغلے وو او زمونږ چہ څومرہ هم دلتہ نوے ټرانسفارمرے وے، درے زرہ پورے ټرانسفارمرے وے، هغہ اوبو وړے وے لهذا هغے باندے هم دا کرائسس راغلے وو۔۔۔۔

*<u>جناب سپیکر</u>: میاں صاحب! ایک منٹ، میڈیا کے دوستوں سے اپیل کی جاتی ہے کہ میاں صاحب بہت ہی اہم چیز پہ اظہار خیال کررہے ہیں۔ یہ صوبے کا بہت سنگین مسئلہ ہے، اس میں آپ اس کو ذرہ Coverage دے دیں اور عوام سے بھی اپیل کریں کہ وہ بجلی کا کم سے کم استعمال کریں اور میاں صاحب کی اس تجویز کو اور ان باتوں کو ذرا اچھی Coverag کل دیدیں۔ جی میاں صاحب، Sorry۔*

*وزیر اطلاعات*: جناب سپیکر صاحب، ډیره مهربانی او د دے په بنیاد باندے چه دا کومه خبره تاسو د پریس ملګرو ته اوکړه نو ما به دا خواست ضرور کولو څکه چه پبلک دا خبره اوریدل غواړی، د دے خبرے په انتظار دی او تاسو یقین اوکړئ چه داسے ځایونه شته دے چه درویشت نیمے ګھنټے، څلیریشت ګھنټو کښے درویشت نیمے ګھنټے لوډ شیډنګ وی نو د نیمے ګھنټے خبره ده نو نوے خبره اوس دا نه ده چه بجلی لاړه، نوے خبره دا ده چه بجلی راغله، دا اوس یو نوے خبره ده نو پبلک غواړی او رښتیا خبره ده چه په لاهور کښے څه واقعات اوشو، هغه هم زمونږ پبلک دے، مونږ د دے وطن د دے خاورے اوسیدونکے یو، مونږه د ټولو مسئلو حل غواړو خو نن زمونږه د صوبے خلق ډیر په تکلیف کښے دی او زما یقین دے که خدائے کړے خیر وی چه د جمعے په ورځ هغه مونږ له کوم کیس راکړی، دغه کیس به مونږ مرکز ته اوړو او مرکز ته به خپل فریاد کوؤ که د پیسو په ذریعه حل کیږی نو مرکز ته به وایو چه د پیسو بندوبست اوکړی، که د معاهدو سره Reconsideration باندے حل کیږی، هغه مسئله به وی، که د ټرانسفارمرو سپیشل او ایمرجنسی ضرورت کیدے شی، په هغے باندے به ئے حل کوو، لهذا هر یو پهلو به مونږه ګورو خو چه لوډ شیډنګ بیخی نه شی ختمیدے چه کم خو شی او چه کم شو او د شیډول مطابق شی، مونږ خو ورته تر دے پورے هم اووئیل چه د عوامو د پاره چه که د شیډول مطابق هم لوډ شیډنګ کوؤ او د اسلام آباد نه Un scheduled Loadshedding کیږی نو ښه نه ده چه مونږ د شیډول دا لوډ شیډنګ پریږدو۔ هسے ئے هم هغوی نه کوی خو چه کله شے ګرمیږی نو بیا د را باندے بند وی خو دا مونږه ئے چه هم بندؤو، زمونږه هم د لته پرابلم شته، لهذا داسے یو اړخ او پهلو نه وه چه مونږه پریښودے وے ،لهذا زه د خپل هاؤس ملګرو ته او تاسو طمع تسلی ساتئ چه زمونږه څه مسائل وو او د پبلک په حواله او ستاسو په حواله چه کوم سوالات وو، هغه مونږه اوچت کړی دی او هغوی راته Surety راکړے ده چه ددے متبادل کښے به تاسو له مونږ تجاویز درکوؤ او هغه به بیا مونږ مخکښے اوړو۔ جناب سپیکر صاحب، ډیره مهربانی، ډیره شکریه، ما ته خو اوس دا چل نه راځی چه قرارداد د پاره به کوم آرټیکل سسپینډ کول غواړی۔۔۔

*جناب سپیکر*: خبرے دومره ډیرے کوئ او دغه چل نه درځی۔

وزیراطلاعات: داسے دہ جی، کہ ٹیکنیکل خبرو باندے پوھیدے نو ما بہ ډیرو خلقو تہ پیزوان اچولے وو۔

جناب سپیکر: خوا کښنے درسرہ داسے سړے ناست دے چہ، اودریږہ میاں صاحب! دا قرارداد پیش کوی کنہ، اودریږہ دا قرارداد پیش کوی۔ جی، اسراراللہ خان! تہ پاخہ کنہ، تہ پاخہ اسراراللہ خان۔

## قاعدہ کا معطل کیا جانا

جناب اسرار اللہ خان گنڈاپور: سر، میری گزارش ہے کہ Rule 240 کے تحت Rule 124 کو Suspend کرکے قرارداد پیش کرنے کی اجازت دی جائے۔

Mr. Speaker: Is it the desire of the House that rule 124 may be relaxed under rule 240 to allow the honourable Members/ Ministers to move their resolution? Those who are in favour of it may say 'Aye' and those against it may say 'No'.

(The motion was carried)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The honourable Members and Ministers are allowed to move the resolution.

ایک رکن: ټول بہ ئے پیش کړو جی۔

جناب سپیکر: یو تن بہ ئے پیش کړی نو زما پہ خیال۔۔۔۔۔

وزیراطلاعات: او جی۔

جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف): یو بہ د اپوزیشن نہ او یو کس بہ د گورنمنټ نہ۔

جناب سپیکر: بس داسے اوکړئ جی۔ جی، آنریبل میاں افتخار حسین صاحب۔

## قرارداد

وزیراطلاعات: بالکل جی، داسے دہ چہ کوم ملگری پخپلہ پیش کول غواړی نو ھغوی تہ اجازت دے۔ زہ بہ د ټولو نومونہ واخلم چہ زمونږہ مشر بشیر بلور صاحب، زمونږہ مشر رحیم داد خان، زمونږہ مشر اکرم درانی صاحب، زمونږہ مشر سکندر شیرپاؤ صاحب، ډیر عزتمند قلندر خان لودھی، ډیر عزتمند مشر

عبدالاکبرخان، زمونږه ورور اسرار الله خان او زمونږه ورور منور خان، دوئ Movers دی او دا قرارداد په شریکه مونږه لیکلے دے۔

یہ صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا میں بجلی کی ناروالوڈشیڈنگ پر گہرے افسوس کا اظہار کرتی ہے اور یہ سمجھتی ہے کہ دہشت گردی سے نڈھال اس صوبے کے عوام کو ناکردہ گناہوں کی سزادی جارہی ہے۔ چونکہ صوبہ خیبر پختونخوا صرف ہائیڈل بجلی کی پیداوار میں خودکفیل ہے بلکہ نیشنل گرڈ سے بھی آبادی کے لحاظ سے اس کو کم حصہ دیا جارہا ہے اور اس پر ستم یہ کہ ان شیڈول لوڈشیڈنگ اور نت نئے طریقوں سے عوام کے کرب میں اضافہ کیا جارہا ہے۔ یہ صوبائی اسمبلی سمجھتی ہے کہ موجودہ ناروالوڈشیڈنگ کا فی الفور حل IPPs کے ساتھ Deferred payment کے الجھے ہوئے حل طلب مسائل ہیں، لہذا عوام کے جذبات کی ترجمانی کرتے ہوئے یہ صوبائی اسمبلی مرکزی حکومت سے پر زور مطالبہ کرتی ہے کہ ناروا لوڈشیڈنگ کے خاتمے کیلئے اقدامات کرتے ہوئے صرف IPPs کے ساتھ اپنے پیچیدہ مسائل ختم کرے اور ساتھ ہی وفاقی وزیر پانی و بجلی سے ریکویسٹ کرتی ہے کہ وہ صوبائی اسمبلی کی قائمہ کمیٹی میں تشریف لائیں اور شیڈول کے علاوہ لوڈشیڈنگ کسی طور پر بھی ہم تسلیم نہیں کریں گے۔ ډیره مهربانی، شکریه۔

جناب سپیکر: جی جناب اکرم خان درانی صاحب، اکرم خان درانی صاحب۔

قائد حزب اختلاف: محترم سپیکر صاحب، چونکه میاں صاحب ډیرے خبرے اوکړے خو یو شو خبرے به زه هم د پیش کولو نه مخکښے اوکړم۔ چونکه دا د صوبے ډیره انتهائی یو اهم مسئله ده او د صوبے خلق ډیر د لوئے تکلیف سره مخامخ دی۔ هغه فارسئ کښے ورته وائی چه "دیر آید درست آید" ښه ده چه مونږه لږ وروستو هم په دے باندے داسے یو نظر اوکړو چه د صوبے د خلقو هغه فریاد چه دے، هغه زمونږه دے ایوان کښے هم، خصوصاً پرون نه هغه بله ورځ تاسو نه وئ نو چه مونږ د اپوزیشن د طرف نه دا مطالبه اوکړه، د خوشدل خان صاحب هغه جذبات هم په هغے کښے مونږ هیرولے نه شو چه هغوی شومره په جذباتو کښے راغلی وو، وئیل چه نن به ئے راغواړو یا به ئے سبا راغواړو نو مونږه هغوی ته هم د قدر په نظر باندے ګورو، د ګورنمنټ د سائډ نه دیکښے جی دلته ډیرے خبرے اوشولے او چیف صاحب یو دا خبره هم اوکړه چه ما ته د دے صوبے په تهیک کولو کښے اماؤنټ ئے اوښائیلو چه دومره ضرورت دے۔ زما خیال دے

چه دا صوبه څومره تکلیف سره مخامخ ده، هغه اماؤنټ د دے صوبے د عوامو د پاره ډیر معمولی دے او هغه دا اووئیل چه که ما ته یو 30 ارب روپئ ملاؤ شی نو زه په دے صوبه کښے دا تکلیف ختمولے شم۔ په دے صوبه کښے د دے صوبے عوامو دومره قربانیانئ ورکړے، دے خلقو دومره قربانیانئ ورکړے او دا چه ته په ډالرو کښے د 30 ارب حساب کوے نو زما خیال دے نن د یو ارب ډالر نه 90 ارب پاکستانی روپئ جوړیږی او دے ملک ته چه دا څومره پیسه راروانه ده، خو هغه د بجلئ په مد کښے مونږ ته چیف صاحب ډیرے داسے خبرے اوکړے چه دومره د اے ډی پی نه دی، دومره د دغه نه دی، د دے Main کردار چه دے، هغه دے خیبر پختونخوا کښے هغه قبائل دی او که د دے صوبے هغه درانه پښتانه دی چه تکلیف سره مخامخ دی، وینه ئے ورکړے ده، قربانئ ئے ورکړی دی او د هغوی د وینو په بدل کښے نن څه امداد د دنیا نه راروان دے۔ مونږ د ټولو سیاسی پارټیانو مشران، په دیکښے ګورنمنټ او اپوزیشن په دے بنیاد باندے نه، مونږ په شریکه یو خو دا ده چه زما به دا ګزارش وی چه د واپډے زمونږ چیف صاحب چه ریټائرشی نو مونږه ته حقائق ښائی خو چه په کرسئ باندے ناست وی نو بیا د هغه مجبوریانے وی، مونږ به لږ ریټائرډ خلق هم ځان ته رااوغواړو چه دا دوئ څه مونږ ته موجوده وائی نو آیا دا دوئ ښه وائی؟ ځکه چه د هر سړی په نوکرئ کښے خپله مجبوری وی او که د نوکرئ نه لاړ شی نو دوئ هغه صحیح خبره تاسو ته کولے شی، نو زه به هم داسے ریټائرډ خلق رااوغواړم او ګورنمنټ کښے هم داسے خلق شته چه دوئ راځی او ریټائرډ خلق مونږ په دے کمیټئ کښے کښینوؤ، زمونږه سره په دے صوبه کښے اوس په دے تکلیف کښے داسے خلق هم دی چه هغه به ریټائرډ چیف وی، هغه به ریټائرډ چیئرمین واپډا وی او نور ډیر داسے خلق دی که د هغوی نه هم مونږ ځان پوهه کړو او بیا په شریکه بله ورځ، د جمعے په ورځ باندے مونږ دا ټول پارلیمانی لیډران یا زمونږه دا ټول ایم پی ایز چه دی، دا زمونږ محترم دی خو اصل خبره دا ده چه مونږ د دوئ د ټیکنیکل خبرو د پاره ټیکنیکل خلق رااوغواړو، ریټائرډ خلق او هغوی به انشاءالله مونږه سپورټ کوی۔اوس که د یو چیف ښه خبره وی چه په 30 ارب روپئ زه د دے صوبے تکلیف ختمولے شم نو مونږ به په شریکه پرائم منسټر ته، پریذیډنټ ته

ځو چه زمونږ د وینو قدر اوکړئ، زمونږ د تکلیفاتو تاسو احساس اوکړئ اوپه دیرش اربه روپئ که د دے صوبے د خلقو تکلیف نه ختمیدے شی نو زما خیال دے چه دا به ډیره بهتره وی او زما دا امید دے چه که چرته گورنمنټ او اپوزیشن ټول د مرکز نه دا مطالبه اوکړی نو د مرکزی حکومت د پاره دیرش اربه روپئ چه دی، دا ډیر معمولی دی نو ان شاءالله مونږ په شریکه باندے دا کوشش کوؤ او اوس به زه که ستاسو اجازت وی نو دا قرارداد به راوړم چه:

*یہ صوبائی اسمبلی صوبہ خیبر پختونخوا میں بجلی کی ناروالوڈ شیڈنگ پر گہرے افسوس کا اظہار کرتی ہے اور یہ سمجھتی ہے کہ دہشتگردی سے نڈھال اس صوبے کے عوام کو ناکردہ گناہوں کی سزا دی جارہی ہے۔ چونکہ صوبہ خیبر پختونخوا صرف ہائیڈل بجلی کی پیداوار میں خودکفیل ہے بلکہ نیشنل گرڈ سے بھی آبادی کے لحاظ سے اس کو کم حصہ دیا جارہا ہے اور اس پر ستم یہ کہ لوڈشیڈنگ اور نت نئے طریقوں سے عوام کے کرب میں اضافہ کیا جارہا ہے۔ صوبائی اسمبلی یہ سمجھتی ہے کہ موجودہ ناروا لوڈ شیڈنگ کا فی الفور حل، IPPs کے ساتھ Deferred payment کے الجھے ہوئے حل طلب مسائل ہیں، لہذا عوام کے جذبات کی ترجمانی کرتے ہوئے یہ صوبائی اسمبلی مرکزی حکومت سے پرزور مطالبہ کرتی ہے کہ ناروالوڈ شیڈنگ کے خاتمے کیلئے اقدامات کرتے ہوئے نہ صرف IPPs کے ساتھ اپنے پیچیدہ مسائل کو حل کرکے ختم کرے اور ساتھ ہی وفاقی وزیر پانی و بجلی سے ریکویسٹ کرتی ہے کہ وہ صوبائی اسمبلی کی قائمہ کمیٹی میں تشریف لائیں اور شیڈول کے علاوہ لوڈشیڈنگ کو کسی طور پر بھی ہم تسلیم نہیں کریں گے۔*

*میرے خیال میں یہ ایک غیر تمند صوبے کی ایک التجا ہے، منسٹر صاحب کو بھی اور اگر ان کو ریڈیو / ٹی وی پہ بھی ہماری یہ التجاء مل جائے تو میرے خیال میں وہ سارے کام چھوڑ کر اس قائمہ کمیٹی میں آجائیں۔ میں اپنی طرف سے اور اس ایوان کی طرف سے دوبارہ منسٹر صاحب سے بھی گزارش کرتا ہوں اور انشاء اللہ مجھے امید ہے کہ وہ اس قائمہ کمیٹی میں حاضری دیں گے۔*

جناب سپیکر: شکریه جی۔ میاں نثار گل صاحب، هم د دے متعلق دے ؟

میاں نثار گل (وزیر جیلخانہ جات): قرارداد دے جی، د دے متعلق خبره کوم جی، هم د دے متعلق خبره کوم جی-----

جناب سپیکر: د ملک قاسم خان تربور دے۔

وزیر جیلخانہ جات: زه ایوان ته دا یو انفارمیشن ورکول غواړم او تاسو ته هم درکوم، کیدے شی چه تاسو میټنګ کوئ او ځومره پورے چه میاں صاحب کومه خبره اوکړه چه ګیس نه بجلی مونږ پیدا کړو نو سر، زمونږ صوبه کښے ځومره ګیس پیدا کیږی، د هغے Fifty percent ګیس پائپ لائن کښے ځی اوFifty percent ګیس به تاسو ګورئ چه ځائے په ځائے کښے به هغه لمبه وی او هغه به ضائع کیږی۔ ما سره دا انفارمیشن دی چه کوم ګیس ضائع کیږی، دغسے په یو ځائے کښے هغے سره Pollution پیدا کیږی، که دے ګیس نه هم مونږ بجلی جوړلے شو، مونږ ته د نور ګیس ضرورت هم نشته چه دا کوم ګیس ځائے په ځائے کښے، درانی صاحب هم ځی په 'انډس هائی وے' باندے، یو لویه شعله بلیږی، داسے مکوړو کښے میاں صاحب هم ورغلے وو، سی پی ایچ کښے چه کومے شعلے اوځی، کمپنئ والا دا وائی چه که داسے ایډمنسټریټر وی چه هغه راشی او چه کوم کښے هغه کاربن ډائی آکسائیډ دے، د کاربن ډائی آکسائیډ د وجه نه هغه پائپ لائن ته نه درومی، نو زه دا یو ریکویسټ ایوان ته کوم، ټولو ته کوم، تاسو ته کوم، دا مسئله مونږ څلورو میاشتو کښے حل کولے شو، ډیر ټائم به نه اخلی، صرف څلور میاشتے به اخلی خو هغوی ته صرف دا پکار دی چه مونږ داسے یو جوائنټ میټنګ اوکړو، څه ایکسپرټ خلق راولو چه کوم ګیس زمونږ ضائع کیږی، مونږه باندے هیڅ هم اثر نه راځی چه هغه کوم ګیس مونږ ته پروډکشن راکوی، نور څه راکوی نو هغه به پائپ لائن ته ځی او ضائع ګیس نه به مونږ بجلی پیدا کړو نو دا مهربانی اوکړئ۔ نو زما خیال دے چه څلور میاشتو د پاره به دا خپل خیبر پختونخوا، تاسو به هم هغه شکریه ادا کوئ او ما ته به هم دعا کوئ چه یو غټ انفارمیشن مو ایوان ته ورکړے وو۔ مهربانی جی۔

جناب سپیکر: شکریه، میاں صاحب۔ دا میاں صاحب چه تاسو ته کومه خبره اوکړه کنه، یہ اصل میں وہ گیس نہیں ہے، یہ ایک Liquid gas ہے، چیف منسٹر صاحب سے اس دن میں نے یہ بات کی ہے، اس پر وہ کام کر رہے ہیں انشاء اللہ، وہLiquid gas ہے۔۔۔۔

وزیر جیلخانہ جات: سر، وہ گیس کی میں بات نہیں کر رہا ہوں، میں اس گیس کی بات۔۔۔۔

جناب سپیکر: میں اسی کی بات کر رہا ہوں، میں اسی کی بات کر رہا ہوں، میرا خود بھی اس کا پلانٹ لگا ہے۔

وزیراطلاعات: جناب سپیکر صاحب، خیر دے کنه د دے متعلق به تپوس او کړو، که جوړیدے شی ترینه نو جوړه به ئے کړو کنه۔

جناب سپیکر: او دریږه بس دا سے، او دریږه چه هغه ختم کړو جی۔ میاں صاحب، ښه ده چه دومره دلچسپی اخلی، ښائسته خبره ده جی، دا د دے صوبے وسائل دی چه څومره ضائع کیدو نه بچ شی نو ډیره ښه ده۔ بس بل ځوک خو ئے نه پیش کوی جی۔

The motion before the House is that the resolution, moved by the honourable Members and Ministers, may be adopted? Those who are in favour of it may say 'Aye' and those against it may say 'No'.

(The motion was carried)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The resolution is adopted unanimously. (Applause)

اب اجلاس کو بروز جمعرات مورخہ 6 اکتوبر 2011ء بوقت چھ بجکر تیس منٹ شام تک ملتوی کیا جاتا ہے۔ آج جو ایجنڈا تقسیم کیا گیا ہے تو اسے جمعرات کے دن ڈسکس کیا جائے گا۔ تھینک یو جی، بہت شکریہ۔

---

(اجلاس بروز جمعرات مورخہ 6 اکتوبر 2011ء شام ساڑھے چھ بجے تک کیلئے ملتوی ہو گیا)